## [درېیمه معلومات پاڼه] ښه خبرورکوونکی او بد خبرورکوونکی

ښه خبر ورکوونکی...

- **ځایي ژبه یا ښه ژباړونکی کاروي** – کله چې له خلکو سره د دوی په ژبه خبرې کېږي نو دوی ښه پوهېږي او ښه غبرګون ښيي.
- **د خلکو ستونزې درک کوي.**
- **متواضع وي.** لومړی د خلکو پوښتنو ته غوږ نیسي او ځواب ورکوي – په یاد ولرئ چې موږ د یوه دلیل لپاره دوه غوږونه او یوازې یوه خوله لرو. موږ باید د خبرو کولو په پرتله دوه برابره غوږ ونیسو. دا معلوم کړئ چې خلک د کرونا وېروس په هکله څه پوهېږي، بیا هڅه وکړئ چې دوی پوه کړئ یا د دوی ځانګړو پوښتنو ته ځواب ووایئ. د معلوماتو له شریکولو مخکې، دا معلوم کړئ چې کومې آوازې او باورونه د عامه روغتیا ساتنې د اقداماتو د اغېزمنتوب مخه نیسي.
- **ساده او روښانه کلیمې کاروي او لنډې خبرې کوي، په یوه وخت کې یو پیغام رسوي او بېلګې او مثالونه وړاندې کوي** – د علمي او نورو بشردوستانه اصطلاحاتو او اوږدو جملو له کارولو څخه ډډه وکړئ چې مخاطبین مغشوشوي.
- **ریښتینی او صادق وي او د "نه پوهېږم" جملې له ویلو څخه نه ډارېږي** – ناسمې ژمنې مه کوئ او که په سم ځواب نه پوهېږئ نو پوښتنو ته ناسم ځواب مه ورکوئ.
- **شیان په روښانه توګه تشریح کوي او دلیلونه وړاندې کوي** – یوازې دا مه وایئ چې لاسونه مو ومینځئ، بلکې په ساده او آسانه ژبه یې تشریح کړئ چې ولې د لاسونو مینځل مهم دي.
- **هغه څه ته غوږ نیسي څه چې خلک وایي، که یې په مطلب پوه/پوهه نه شي د توضیحاتو غوښتنه کوي او د غونډې په پای کې اصلي مسئلې او مهم ټکي لنډیز کوي.**
- **دا معلوموي چې آیا هغه څه چې دی/دا وایي خلک پرې پوهېږي که نه** – دی/دا له خلکو څخه په مودبانه توګه غواړي چې د ده/دې له خوا مهم شریک شوي معلومات تکرار یا لنډیز کړي لکه د دې جملې په ویلو سره: "زه ډاډه نه یم چې خپلې خبرې او نظرونه مې په سمه توګه بیان کړل که نه. آیا کېدای شي هغه څه ماته ووایئ چې تاسو واورېدل؟"
- له خلکو سره له کتنې مخکې ښه ځان چمتو کوي – دی/دا د ټولنې او د کتنې د موخې په اړه پوهېږي او په دې پوهېږي چې څه ووایي.
- د ټول ټیم د ننه او له نورو سازمانونو سره پیغامونه او لیدنې کتنې همغږې کوي – همغږي وکړئ، همغږي وکړئ، همغږي وکړئ.
- **د ښکېلتیا یا تعامل پر مهال ځایي دودونو ته پام کوي – د پوهاوي ورکولو پر مهال خلکو ته ګوري، د سترګو اړیکې ساتي، او داسې نور.**
- **آرام/آرامه وي او په نرمۍ او آرامۍ سره خپل نظر څرګندوي.**
- **د خلکو د خبرو په نه پرې کولو او د دوی نظرونو ته په غوږ نیولو سره له ځانه لېوالتیا او درناوی ښيي.**
- په نالفظي اشارو پوهېږي او هغوی ته ځواب وایي – د خبرو اترو پر مهال د بدن حرکتونه، د بدن د موقعیت څرنګوالی، د غږ بڼه، د څېرې د نښو څرنګوالی او د شیانو خوځول (لکه کرځنده ټلیفون ته کتل) د خوندیتابه او امنیت احتمالي ګواښونو په ګډون د یوه تعامل د اغېزمنتیا په اړه ډېر څه څرګندوي. ښه خبر ورکوونکی په دې هرڅه پوهېږي او دې وضعیت ته په کتو خپل چلند عیاروي.
- د هغه وخت او مشورو قدرداني کوي چې ده/دې ته ورکول کېږي – د خلکو وخت هم ستاسو د وخت په څېر ارزښتناک دی، د دوی د دې سخاوت درناوی وکړئ او خبرو ته یې په بشپړه توګه غوږ ونیسئ.

بد خبر ورکوونکی...

- خلکو ته د خبرو کولو اجازه نه ورکوي – یوازې خپله خبرې کوي.
- خلکو ته لکچر ورکوي او ځان غوره او لوړ ګڼي.
- د خلکو پوښتنې بې ځایه او بابېځه ګڼي او ردوي یې.
- تخنیکي یا علمي کلیمې کاروي.

- کله چې خلک خبرې کوي، په خبرو وکې ورلوېږي او خبرې یې پرې کوي.
- نه پوهېږي چې دی/دا څه وايي او د څه په اړه خبرې کوي – مخکې له دې چې له ټولنې او خلکو سره مخامخ شئ ځان دېده او په حقایقو پوه شئ.
- چیغې وهي یا بې حوصلې کېږي.
- هغو پوښتنو ته ځواب ورکوي چې په اړه یې نه پوهېږي.
- تبعیضي اصطلاحات لکه "چینايي ویروس" یا "قرباني" کاروي یا یو څوک د وېروس "خپروونکی" بولي.

تاسو غواړئ نور څه اضافه کړئ؟

سرچینه: د سره صلیب نړیوال فدراسیون